United Nations Nations Unies

د ملګرو ملتونو دبشري مرستو دهمغږی اداره

په ۲۰۱۶ کال کی له ۳,۶ میلیونه زیاتو افغانانو د ژوند ژغورنې بیړنی بشری مرستی تر لاسه کړی

(کابل د ۲۰۱۷ کال د مارچ ۲۰ نیټه): په فغانستان کي د ملګرو ملتونو د بشري مرستو دهمغږی اداري یا اوچا وویل چي په ۲۰۱۶ کال کي بشري ټولنې له ۳,۶ میلیونه زیاتو افغانانو سره د ژوند ژغورنې او بیړنی بشري مرستې کړي دي.

"دبشري ټولنې په ګډو هڅو او ژمنتیا تیر کال ۳,۶ میلیونه زیان مننکو او محرمو افغانانو چي د ټولنې تقریبا ۱۱ سلنه جوړه وي، بیړنی بشري مرستې تر لاسه کړی" په افغانستان کي د ملګرو ملتونو دبشري مرستو د همغږی اداري(اوچا) مشر ښاغلي ډومینیک پارکر وویل "په میلیونونه افغانان د اوږدې مودې راپدیخوا د جنګ جګړو او تکراري طبعي پیښود ویجاړونکو زیانونو له امله کړیږي. خو دا پایلې په ګوته کوي چې بشري ټولنې د ژوند ژغورنې د مرستو په رسولو کي خپلې نه ستړي کیدونکي هلې ځلې کړي اوژمنه ده چې لا ډیر کار وکړي"

په افغانستان کي د ملګرو ملتونو دبشري مرستو د هغږی اداري د ۲۰۱۶ کال د بشري غبرګون دپلان کلنی راپور خپور کړی هغه پلان چې د ژوند ژغورنې، دمخنیوي وړ ناروغیواو انساني کړاؤنود کمولو ستراتیژي ده او په هغه پلان کی ډیرو اړوافغانانو ته د لاس رسي په خاطر د بشري ټولنې ګډې هڅې په ګوته شوې دي

په ۲۰۱۶ کال کي بیا هم بسپنه ورکونکو خپل سخاوت وښود او ۵۳۸ میلیونه ډالریې د بشري مرستو پرګراموته ځانګړي کړل چې په دې کي د بشري غبرګون د پلان ۳۵۶ میلیونه ډالره بسپنه هم شامله ده. تیر کال د افغانستان لپاره د بشري غبرګون پلان ۷۳ سلنه بودیجه تر لاسه کړه چې د نړۍ په سطحه د دوهم پرله پسي کال لپاره د ډیرې بودیجې د لاسته راوړلو په دوهم قطار کي راځي.

ډیرې بشري مرستې د بیړنی سرپنا،خوارکي توکو او اوبوسره سره د ژوند ژوغورنې درملنې اوبیړنیو درملود رسولوله لارې ، تر سره شوې وې. د یادونې وړ ده چې بشري فعالانو له یو میلیون په کوردننه بیځایه شویو چې په هغو کي د ۲۰۱۵ کال بیځایه شوي هم شامل دي اوله پاکستانه ځخه را ستنو شویو ۶۰۰۰۰۰ وګړو سره هم بشري مرستې کړي دي.

د اوچا د اټکل له مخې به سږ کال ۹,۳ میلیونه افغانان بشري مرستو ته اړتیا ولري چې د هغو له منځه به له ۵,۶ میلیونه ډیرو زیانمنو افغانانو سره د ۲۰۱۷ کال د بشري غبرګون د پلان له مخې مرسته وشي

" ۲۰۱۷ کال به د افغانستان لپاره یو بل ستونزمن کال وي او بشري ټولنه به دې ته اړایستل شي چې خپل هڅې یو په دوه کړي" ښاغلي پارکر وویل " زمونږ اټکل داده چې د تاؤتریخوالي له امله به په لوړ شمیر خلک بیځایه شي، له پاکستان به نورې زیامنې کورنۍ هیواد ته راستنې شي اود روغتیا اوتغذي د بیړنیو اړتیاوو د پوره کولو په موخه به د ژوند ژغورنې لا ډیرې مداخلې ته اړتیاوي. سږ کال مونږ د ۵۵۰ میلیونه امریکایی ډالرو غوښتنه کړې ده او د بسپنه ورکوونکو کلکو ژمنو ته سترګې په لاره یو"

د ۲۰۱۶کال د بشري غبرګون کلنی راپور به لاندې ویب پاڼه موندلای شئ.
https://www.humanitarianresponse.info/en/operations/afghanistan/document/afghanistan-2016-humanitarian-response-plan-end-year-report-january

د لا ډیرو معلوماتو لپاره د اوچا د عامه اړیکو د مسؤلې آغلې ډانیل موی لان سره په لاندې شمیره او یا بریښنا لیک پته اړیکه ونیسئ
Telephone: (+93) 0793001110 or **Email:** moylan@un.org